سلطان جان کلیوال

۲۰۲۰/۰۱/۰۷

# ملامته یم پخپله

چا ویشتلی په کلونو، چا ویشتلی په کولی یم

چاویشتلی یم په سترګو، چاویشتلی په مرمۍ یم

چا خوړلی یم په زلفو، چا خوړلی په خالونو

چا سیزلی یم په شونډو، چا سیزلی په کوکۍ یم

چا شړلی له درګاه یم، چا شړلی د کوڅې نه

چا داغلی په چارګل یم، چا داغلی په نتکۍ یم

چا بیولی یم کعبې ته، چا بیولی درمسال ته

چا رټلی په لیلی یم، چا رټلی په رانۍ یم

چا بد بد را کتلی، چا خندلی په ما باندی

چا وزلی په بنګړو یم، چا وزلی په هوګۍ یم



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

مـلامتـه هیخــوک نه دي، مـلامته یـم پخپـله

له حدودو یـم وتلي، سـتړی سـتړی د نړۍ یم

چا ښـیرا پسـی کولې، چا دُعـا کړه کلیوال ته

چا نیـولی له لمن یـم، چا نیـولی له غـړی یـم

فبروری/ ۹/ ۲۰۰۵

تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

یادونه:

که چیری گران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

مـلامتـه یـم پـخپـله

S_klewal_malaamata_yum_pakhpola.pdf